  

# روغتيا په جنيوا کې

ايا تاسو تازه جنيوا ته راغلي ياست او د هوسپاس جنرال (Hospice général) څخه ګټه اخيستونکي ياست؟ ايا تاسو د روغتيا او پاملرني ته د لاسرسي په اړه پوښتني لرئ؟

دا سند تاسو ته د لاندنيو پوښتنو ځوابونه درکوي.

- 1. د پناه غوښتني د پاملرني شبکه
- 2. د پناه غوښتني د پاملرني شبکه په څه ډول کار کوي؟
- 3. په بيړني حالت کې بايد څه وشي؟
- 4. که ستاسو ماشوم ناروغه وي څه بايد وکړئ؟
- 5. ستاسو د ډاکټر لخوا ليکل شوي درمل بايد څنګه ترلاسه کړئ؟
- 6. د غاښونو پاملرني ته بايد څنګه لاسرسی ومومئ؟
- 7. څنګه يو جوړه چشمي (عينکي) ترلاسه کړئ؟
- 8. کوم طبي لګښتونه دي چې تاسو يې بايد تاديه کړئ؟
- 9. د پيښي (حادثې) په صورت کې څه پيښيږي؟

SCAN ME

## 1. د پناه غوښتنې د پاملرنې شبکه

د روغتیا بیمه په سویس کې اجباري ده. تاسو د سویس خطر او پاملرنې SA له طریقه د روغتیا بیمې سکیم سره بیمه شوي یاست.

کله چې تاسو ورسیږئ، ستاسو ټولنیز کارکونکي تاسو ته د موقتي روغتیایي بیمې سند درکوي. تاسو به دې په لرلو سره (روغتیایي) پاملرنې ته لاسرسی وموموئ.

ستاسو روغتیایی درملنه به د پاملرنې شبکې په چوکاټ کې ترسره شي، پدې معنی چې تاسو ته به د لومړني پاملرنې لپاره ډاکټر ځانګړی شي، یا به د Programme santé migrants (PSM) څخه یا د شبکې سره تړلي خصوصي ډاکټرانو د لیست څخه.

هغه درمل چې د دې لومړني پاملرنې ډاکټر لخوا لیکل شوي وي باید د PharmAsile شبکې له درملتون څخه ترلاسه شي.

هغه نرس چې تاسو سره ستاسو په رارسیدو سره لیدنه کوي، تاسو ته به لارښوونه وکړي او تاسو ته به ستاسو د شخصي د لومړنۍ پاملرنې د ډاکټر نوم درکړي.

تاسو کولی شئ د هرې فزیکي یا رواني ستونزې په اړه د خپل نرس یا ډاکټر سره په بشپړ ډاډ خبرې وکړئ.

## 2. د پناه غوښتنې د پاملرنې شبکه په څه ډول کار کوي؟

**د لویانو لپاره:**

لویان باید د لومړنۍ پاملرنې د ډاکټر سره مشوره وکړي کوم چې دوی ته ګمارل شوي نه د بل کوم ډاکټر سره. که چیرې ډاکټر دا اړین وګڼي، ناروغ به یو متخصص ته راجع کړل شي او د "هییت خبرتیا" (delegation notice) به ورکړل شي.

پرته د نسایی یا د سترګو متخصص په قضیه کې، تاسو باید په هیڅ حالت کې د خپل لومړنۍ پاملرنې ډاکټر څخه د خبرتیا پرته د متخصص سره مشوره ونکړئ.

**د کوچنیانو لپاره:**

د کوچني ماشومانو لپاره د لومړنۍ پاملرنې د ډاکټر ټاکلو ته اړتیا نشته. دوی کولی شي د خپلي خوښې ډاکټر سره مشوره وکړي [د ماشومانو ډاکټر، د ماشومانو روغتون، د ځوانانو د روغتیا سکیم یا د Programme santé jeunes].

**پاملرنې ته د لاسرسي لپاره، تاسو باید دا لاندې اسناد چمتو کړئ:**

- ستاسو د استوګنې اجازه (اقامه) [د N, F, S یا B دوله اقامه یا د اضطراري مرستې لپاره د ځنډیدو د سند (attestation de délai de départ) تصدیق)].
- ستاسو د Swiss Risk & Care SA روغتیایي بیمه کارت (یا هغه لنډمهاله سند چې ستاسو د د رارسیدو پرمهال چمتو شوی).

که ستاسو کارت ورک یا غلا شوی وي، نو تاسو باید خپل ټولنیز کارکونکي یا ستاسو د مالي او اداري مدیر سره اړیکه ونیسئ.

## 3. د بیړني حالت په صورت کې باید څه وشي؟

**که تاسو د اجتماعي ژوند کولو مرکز کې اوسیږئ:**

- د یو نسبي اضطراري حالت په صورت کې (کوم چې یو څه انتظار کولی شي)، تاسو کولی شئ په سایټ کې د مهاجرینو د روغتیا پروګرام (Programme santé migrants) (PSM) نرس سره اړیکه ونیسئ یا لاړ شئ او د خپلې لومړنۍ پاملرنې د ډاکټر سره وګورئ.
- د ریښتیني اضطراري حالت په صورت کې (کوم ته چې انتظار نشي ویستل کیدی)، سمدلاسه د ساحې له ټیم سره اړیکه ونیسئ څوک چې تاسو ته لارښونه او د ترانسپورت ترټولو مناسبې وسیلې وړاندیز کوي.
- د ژوند ګواښونکي بیړني حالت په صورت کې به د ساحې ټیم 144 او امبولانس ته زنګ ووهي.

**که تاسو انفرادي کور لرئ:**

- د یو نسبي اضطراري حالت په صورت کې (کوم چې یو څه انتظار کولی شي)، تاسو باید د خپلې لومړنۍ پاملرنې د ډاکټر سره د مهاجرینو د روغتیا پروګرام (Programme santé migrants) (PSM) له لارې، یا د ډاکټر شخصي دفتر یا کلینیک سره اړیکه ونیسئ.
- د ریښتیني اضطراري حالت په صورت کې (کوم ته چې انتظار نشي ویستل کیدی)، تاسو باید د جنیوا پوهنتون روغتون (HUG) بیړنۍ څانګې ته لاړ شئ په یو مناسبه ټرانسپورټ کارولو سره، عامه ترانسپورت یا ټیکسي (د د تادیې وروسته د رسید غوښتنه وکړئ).
- یوازې په بیړنیو او حساسو شرایطو کې، **144** او امبولانس ته زنګ ووهئ.

محتاط اوسئ! امبولانس باید هغه وخت وغوښتل شي کله چې د هغې لپاره دلیل شتون ولري او دا د ژوند ګواښونکي اضطراري حالت وي. د خدمت څخه هرډول ناسمه ګټه اخیستل په تاسي د لګښت پورې کیدو لامل کیدی شي.

## 4. که ستاسو ماشوم ناروغه وي څه باید وکړئ؟

تاسو کولی شئ د مهاجرینو د روغتیا پروګرام (Programme santé migrants) (PSM) یا د راجع شوي ماشومانو ډاکټر سره اړیکه ونیسئ.

که دا اضطراري حالت وي، د ساحې له ټیم سره اړیکه ونیسئ څوک چې تاسو ته لارښوونه کوي. ماشومان به د ماشومانو بیړنۍ څانګې ته واستول شي.

د "la santé de votre enfant" (ستاسو د ماشوم روغتیا) بروشر (مجله) چې (څوارلس ژبو ته ژباړل شوی) ستاسو د ماشوم د پاملرنې په اړه مشورې او معلومات وړاندې کوي. تاسو کولی شئ د جنیوا پوهنتون روغتون (HUG) بروشر (مجله) د بونژوغ جنیوا په ویبپانه کې ومومئ.

**د جنیوا پوهنتون روغتون (HUG) اپلیکیشن:**

- د Mon enfant est malade (زما ماشوم ناروغ دی) اپلیکیشن د هغه ماشوم د پاملرنې په اړه مشوره ورکوي چې ناروغ یا ټپي وي.
- د Infokids د ماشومانو د اضطراري ځانګې اپلیکیشن تاسو سره مرسته کوي چې پریکړه وکړي چې ایا ستاسو د ماشوم ناروغي مشورې ته اړتیا لري او که نه.

## 5. ستاسو د ډاکټر لخوا لیکل شوي درمل باید څنګه ترلاسه کړئ؟

**خپل درمل ترلاسه کولو لپاره:**

- تاسو باید لیکلې نسخه ولرئ.
- تاسو اړتیا لرئ چې یوازې ستاسو د تولنیز کارکونکي لخوا چمتو شوي د PharmAsile لیست کې درملتون ته لاړشئ. یوځل چې تاسو درملتون غوره کړئ، تاسو باید تل ورته درملتون ته لاړشئ.
- تاسو باید خپل د روغتیا بیمې کارت (یا موقتي سند) او ستاسو د استوګنې جواز (اقامه) [N, F, S یا B ډوله جواز یا د تلو د وخت ځنډولو سند (attestation de délai de départ)] د ځان سره ولرئ.

په یاد ولرئ! تاسو باید پخپله د هر هغه درمل لپاره پیسې ورکړئ کوم چې د ډاکټر لخوا نه وي وړاندیز شوي یا ستاسو د ډاکټر لخوا "ستاسو د درملنې لپاره اړین" نه ګڼل کیږي.

## 6. د غاښونو پاملرنې ته باید څنګه لاسرسی ومومئ؟

د غاښونو پاملرنه ترلاسه کولو لپاره، تاسو د هوسپاس جنرال (Hospice Général) څخه د غاښونو تضمین ته اړتیا لرئ کوم چې د هوسپاس جنرال (Hospice Général) په تصویب پورې اړه لري. مهرباني وکړئ د خپل تضمین ترلاسه کولو لپاره په هوسپاس جنرال (Hospice Général) کې خپل مرستندویه کارکونکي وګورئ چې ستاسو تضمین وکړي.

## 7. څنګه یو جوړه چشمې (عینکې) ترلاسه کړئ؟

یو جوړه چشمې (عینکې) ترلاسه کولو لپاره، تاسو د هوسپاس جنرال (Hospice Général) څخه نظری تضمین ته اړتیا لرئ کوم چې د هوسپاس جنرال (Hospice Général) د تصویب پورې اړه لري. مهرباني وکړئ د خپل تضمین ترلاسه کولو لپاره خپل د تولنیز/اداري ملاتړ کارکونکي سره وګورئ.

## 8. کوم طبي لګښتونه دي چې تاسو یې باید تادیه کړئ؟

طبي لګښتونه د هوسپاس جنرال (Hospice Général) لخوا اداره کیږي. که تاسو د طبي خدماتو لپاره بل (رسید) ترلاسه کوئ، پیسې مه ورکوئ او سمدلاسه یې خپل مرستندویه کارکونکي ته واستوئ.

که تاسو د ملاقات وخت له لاسه ورکړئ، تاسو ته به د 50.00 فرانک رسید درکړل شي.

په یاد ولرئ! که تاسو په طبي ملاقات کې ګډون نشئ کولی، تاسو باید 24 ساعته مخکې خبرتیا ورکړئ ترڅو د غیر حاضر شوي ملاقات لپاره د پیسو د ورکولو مخنیوی وشي.

## 9. د پېښې (حادثې) په صورت کې څه پېښیږي؟

تاسو د خپلې روغتیایي بیمې تر پوښښ (your health insurance cover) لاندې د حادثې په صورت کې د لګښتونو لپاره بیمه یاست، تاسو باید د "حادثې راپور" بشپړ کړئ ترڅو د بیمې لخوا مصرف شوي لګښتونه بیرته تادیه شي. که تاسو په کار کې یاست، ستاسو د کار ګمارونکي د حادثې بیمه به ټول طبي لګښتونه پوښي.

په ټولو قضیو کې، د حادثې راپور پوښتنلیک بشپړول په چټکۍ سره ستاسو د بیمې لپاره مهم دي.